مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۳۷** (از ۱۸ الی ۲۵ میزان ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

**د افغانستان په اړه د منځنۍ آسيا او روسيې زياتېدونکي اندېښنې**

- د منځنۍ آسيا او روسيې د اندېښنو عوامل........ ۴
- د افغانستان په شمال کې بې‌ثباتي........ ۴
- له داعش سره د منځنۍ آسيا د ځينو جنګي ډلو بيعت........ ۴
- له افغانستان سره د روسيې پوځي مرستې........ ۵
- آيا روسان به په افغانستان کې هم هوايي بريدونه وکړي؟........ ۶
- د شانګهای په سازمان کې د کابل د غړيتوب غوښتنه........ ۶

**صلح؛ از تلاش‌های حکومت تا وعده‌های مکرر پاکستان**

- تجرید پاکستان و سفر نوازشریف به امریکا........ ۸
- تلاش‌های صلح از راه شورای عالی صلح........ ۹
- سیاست فشار بر پاکستان........ ۱۰
- آیا طالبان به داعش خواهند پیوست؟........ ۱۱
- نیاز به تفاهم بین الافغانی........ ۱۲

## مقدمه

د افغانستان په شمال کې د ناامنيو له وروستۍ څپې وروسته، د منځنۍ آسيا د هېوادونو او روسيې پاملرنه د افغانستان په لور زياته شوې او سيمې ته د ناامنيو له غځېدو اندېښنې لري. په دې اړه له تېرو څو ورځو راهيسې له افغانستان سره د روسيې د پوځي مرستو او ان په ځينو رسنيو کې د سوريې په شان په افغانستان کې هم د روسيې د هوايي بريدونه د احتمال خبري کېږي. له دې سره هممهاله د شانگهای سازمان مشر منلې چې افغانستان په دې وروستيو کې د دغه سازمان د بشپړ غړيتوب غوښتنه کړې ده.

دا چې د افغانستان په تړاو د منځنۍ آسيا هېوادونو او روسيې د اندېښنو مهم عوامل څه دي؟ او دا اندېښنې به په راتلونکي کې کوم رنگ خپل کړي؟ په اړه يې د دې اوونۍ په تحليل کې شننه لولئ.

دغه راز د هېواد په ډېرى سيمو او په تېره بيا شمال کې د طالبانو د بريدونو له زياتوالي سره هممهاله د پاکستان لومړي وزير نوازشريف يو ځل بيا د طالبانو او افغان حکومت د مخامخ خبرو د پيل لپاره د هلو ځلو خبره کړې؛ که څه هم پاکستان په تکراري ډول دا ژمنې کړې او په عملي ډگر کې لاهم کوم پرمختگ نه دی شوی؛ خو د پاکستان د وروستيو هڅو تر شا څه دي؟

د اوونۍ تحليل په دې گڼه کې د همدغو موضوعاتو په اړه د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د څېړنيزې څانگې شننې او څېړنې لولئ.

# د افغانستان په اړه د منځنۍ آسیا او روسیې زیاتېدونکې اندېښنې




د افغانستان په شمال کې له تېرو شپږو میاشتو راهیسې د ډېری سیمو او ولسوالیو پرله‌پسې سقوط، د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې اندېښنې زېږولې وې؛ خو د طالبانو له خوا د کندز ولایت له سقوط سره په دغو هېوادونو کې د اندېښنو نوې څپه راپورته شوه او اوس یې عملي هلو ځلو ته هڅولي دي.

د افغانستان په شمال کې د روانې ناامنۍ او بې‌ثباتۍ له کبله د منځنۍ آسیا هېوادونو په خپلو هېوادونو کې ځینې داسې تدابیر نیولي، چې د دوی هېوادونو ته د دغې بې‌ثباتۍ د غځېدلو مخنیوی به کوي.

دا چې په افغانستان کې د منځنۍ آسیا د اندېښنو تر شا څه دي؟ د روسیې زیاتېدونکې پاملرنه به په افغانستان کې کومه بڼه خپله کړي؟ آیا د مرستو له کچې ورهاخوا به په افغانستان کې هم د سوریې په شان بریدونه وکړي؟ او د دې ترځنګ ولې په اوسني وضعیت کې کابل د شانګهای د همکاریو په سازمان کې د غړیتوب غوښتنه وکړه؟

## د منځنۍ آسیا او روسیې د اندېښنو عوامل:

په افغانستان کې د منځنۍ آسیا د ډېرې اندېښنو تر شا لاندې عوامل دي:

### لومړی: د افغانستان په شمال کې بې‌ثباتي

د کندز له سقوط څخه وړاندې او وروسته د افغانستان په شمال کې یو شمېر ولسوالۍ د طالبانو ولکې ته ورغلې. په دې تړاو د لانګ وار ژورنال د څېړنې له مخې طالبان د افغانستان د ۳۹۸ ولسوالیو څخه پر ۲۹ یې بشپړه تسلط لري او ۳۶ ولسوالۍ بیا داسې دي، چې یوازې د ولسوالیو مرکزونه له حکومت سره دي او نورې ټولې سیمې یې د طالبانو تر ولکې لاندې دي. د کندز له سقوط سره، د افغانستان په شمال کې تقریباً ۹ ولسوالۍ د طالبانو تر کنټرول لاندې راغلې او د طالبانو له خوا د ولسوالیو د نیولو دا لړۍ له بدخشانه نیولې تر فاریاب پورې غځېدلې ده. په داسې حال کې، چې په شمالي افغانستان کې د ناامنیو دا کړښه د منځنۍ آسیا له دریو هېوادونو سره نږدې پولې هم لري، دغه حالت د منځنۍ آسیا هېوادونه پارولي او له دې اندېښنه لري، چې د بې‌ثباتۍ دغه څپه منځنۍ آسیا ته هم خپره نه شي. له همدې کبله تاجکستان د کندز د سقوط په لومړیو ورځو کې له افغانستان سره خپلې پولې وتړلې، په تاجکستان کې روسانو په خپله ۲۰۱ اډه کې لوړه نظامي ټکنالوژي ځای پرځای کړه او اوس د روسیې ګډ امنیتي سیستم هم د تاجکستان او افغانستان ترمنځ پر پولې امنیتي تدابیر زیاتوي.

### دویم: د داعش په لیکو کې د منځنۍ آسیا د توکمونو شتون

په عراق او سوریه کې د داعش ډلې له راپیدا کېدو او هلته د "اسلامي دولت" له اعلانېدو سره سم د منځنۍ آسیا یو شمېر اتباعو له دغې ډلې سره بیعت وکړ. البته د داعش یا "اسلامي دولت" ډلې په لیکو کې د روسیې او منځنۍ آسیا د اتباعو په اړه کره څېړنې لاهم نشته دي؛ خو د رویټرز د یوه خبر له مخې روسي چارواکي په دې اند دي، چې داعش ډله کابو ۲۴۰۰ روسي نژاده او شاوخوا ۳۰۰۰ د منځنۍ آسیا د هېوادونو تابعیت لرونکي غړي لري.

### درییم: له داعش سره د منځنۍ آسیا د ځینو جنګي ډلو بیعت

د داعش ډلې له مشر ابوبکر بغدادي سره د منځنۍ آسیا یو شمېر جنګي ډلو بیعت کړی، چې پکې د ازبکستان اسلامي غورځنګ، د اسلامي جهاد یووالی او جماعت الانصار ډلې شاملې دي. له داعش سره د دوی بیعت هم د منځنۍ آسیا او روسیې اندېښنې زیاتې کړې دي.

## څلورم: په افغانستان کې د داعش ظهور

په افغانستان کې د داعش ظهور منځنۍ آسیا او روسیې ته بل سرخوږی دی. د دوی له ولسمشرانو نیولې تر دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو پورې ټولو له پیله په افغانستان کې د داعش د ظهور په تړاو څرګندونې کړې دي. په دې وروستیو کې د روسیې په دفاع وزارت کې د افغانستان په تړاو یو کنفرانس هم جوړ شو او روسي چارواکو په افغانستان کې تر ۳۰۰۰ پورې کسان له داعش سره تړلي وبلل.

## له افغانستان سره د روسیې پوځي مرستې

روسیې اوسمهال د پورتنیو اندیښنو له کبله له افغانستان‌سره مرستې زیاتې کړې دي. کابل هم، د روسانو او منځنۍ آسیا اندېښنې درک کړې او په دې وروستیو کې یې خپل بهرنۍ سیاست په یوه داسې لورې روان کړی، چې د بې‌ثباتۍ په له منځه وړلو او په امنیتي ډګر کې له دغو هېوادونو څخه مرستې ترلاسه کړي. په همدې تړاو کابل د شانګهای د همکاریو په سازمان کې د غړیتوب وړاندیز وکړ او ترڅنګ یې له روسیې څخه د نظامي وسلو او جنګي هلي‌کوپټرو مرستې هم وغوښتې.

د ملي وحدت د حکومت له راتګ سره، د افغانستان او روسیې ترمنځ ورځ تر بلې اړیکې پراخېږي. روسیې ته تر اوسه د افغانستان ولسمشر، د بهرنیو چارو وزیر، د ملي امنیت سلاکار او د ولسمشر لومړي مرستیال سفرونه کړي او په کابل کې هم د روسیې له ځانګړي استازي او سفیر سره د افغان چارواکو کتنې زیاتې شوې دي.

کابل د ۲۰۱۵ کال د اپرېل په ۱۰مه نېټه له روسیې څخه د "ایم آی ۳۵" جنګي هلي‌کوپټرو د رانیولو وړاندیز وکړ. ماسکو چمتو شو، چې دغه الوتکې افغانستان ته ورکړي، په دې وروستیو کې د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف وویل، چې په روانه میاشت (اکتوبر) کې به د دواړو لوریو ترمنځ په دې تړاو یو تړون لاسلیک شي. همدا راز په دې وروستیو کې د روسیې د دفاع وزیر هم ویلي، چې روسیه چمتو ده له افغانستان سره په نظامي برخه کې هر راز مرستې وکړي. د ناټو سازمان لپاره د روسیې ځانګړي استازي الګیزنډر ګروشکو ویلي، چې افغانستان په یوازې ځان د داعش پرخلاف مبارزه نه شي کولای.

## آیا روسان به په افغانستان کې هم هوايي بريدونه وکړي؟

که روسان له افغانستان سره مرستې هم وکړي او بيا هم په هېواد کې حالات همداسې روان وي، نو آيا روسان به د سوريې په شان په افغانستان کې هم هوايي بريدونه وکړي کنه؟ په دې تړاو تېره اوونۍ په يو شمېر ورځپاڼو کې د افغانستان په شمالي سيمو کې د روسانو له خوا د سوريې په شان د هوايي بريدونو د احتمال په تړاو مطالب خپاره شول. البته دغه احتمال له دې فرضيې سره وتړل شو، چې که چيرې د افغانستان په شمالي سيمو کې ناامنۍ ورځ تر بلې زياتې شي او حکومت د امنيت په ټينګولو کې پاتې راشي، نو ښايي دا کار وشي؛ خو زموږ په اند د روسانو د هوايي بريدونو دغه احتمال د لاندې عواملو له کبله په اوسنيو شرايطو کې ناشونی برېښي:

**لومړی**: روسيه وار له مخه د سوريې او اوکراين په قضيه کې ښکېل شوې ده او په دواړو قضيو کې نه يوازې دا چې د لويديځ له توند غبرګون سره مخ ده، بلکې د اوکراين د قضيې له کبله د امريکا او اروپايي ټولنې له خوا ډېر اقتصادي بنديزونه هم پرې لګېدلي دي.

**دويم**: له افغانستان څخه د روسانو تېري تجربې ته په کتلوسره به، روسان بيا خپله تېره تېروتنه تکرار نه کړي.

**درېيم**: په شمالي افغانستان کې د روسانو يوازينۍ وېره دا ده، چې منځنۍ آسيا ته بې‌ثباتي خپره نه شي؛ دوی تر ډېره له طالبانو څخه وېره نه لري؛ ځکه د قطر دفتر غړو له روسانو سره د خپلې ديپلوماسۍ له کبله هغوی ته جوته کړې وه، چې د طالبانو اجنډا يوازې د افغانستان تر سرحدونو پورې محدوده ده.

**څلورم:** روسان به داسې مهال چې طالبانو د داعش پرخلاف ځانګړی ځواک جوړ کړی، په شمالي افغانستان کې پر طالبانو بريدونه ونه کړي.

**پنځم**: روسان دغه کار د امريکا او ناټو د جدي مخالفتونو له کبله هم نه شي کولای.

**شپږم:** له دغه کار سره به افغان حکومت هم جدي مخالفت وښيي.

## د شانګهای په سازمان کې د کابل د غړيتوب غوښتنه

تېره اوونۍ د شانګهای د همکاريو د سازمان مشر، دمېتري ميزنتسيف، ومنله، چې په دې وروستيو کې کابل په رسمي ډول په دغه سازمان کې د غړيتوب غوښتنه کړې ده. د اشرف غني له واک ته رسېدو سره، افغان چارواکو

له روسانو او چینایانو سره په دې اړه خبرې کړې وې. خو کابل داسې مهال د شانګهای د همکاریو په سازمان کې د غړیتوب غوښتنه کوي، چې له یوې مخې کندز ولایت د څو ورځو لپاره د طالبانو ولکې ته ورغی او په شمال کې یو زیات شمېر ولسوالیو سقوط کړی او له بلې خوا په افغانستان کې داعش ډله هم ورو ورو پښې ټینګوي.

دلته پوښتنه زیږي، چې که څه هم افغانستان په طبیعي توګه د شانګهای د همکارۍ سازمان د غړیتوب وړتیا لري؛ خو ولې یې له تېرو ۱۳ کلونو راهیسې د دغه سازمان غړیتوب نه دی ترلاسه کړی؟ د دې لامل دا کېدای شي، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې په افغانستان کې امریکایي او ناټو ځواکونو حضور درلود او ترڅنګ یې د افغانستان بهرنی سیاست هم تر ډېره پر لویدیځ تکیه و. خو کله چې په ۲۰۰۹ کال کې امریکایانو له افغانستانه د وتلو اعلان وکړ، له همدغه کال راهیسې د حامد کرزي او امریکا اړیکې هم د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو له کبله خړې پړې شوې او ترڅنګ یې په افغانستان کې له ۲۰۰۹ کال راوروسته ناامنۍ هم اوج ته ورسېدې، نو افغانستان ته بالاخره په ۲۰۱۲ کال کې د دغه سازمان د څارونکي غړیتوب ورکړل شو.

د شانګهای په سازمان کې د افغانستان د پوره غړیتوب د غوښتنې لاملونه په لاندې ډول کېدای شي:

- له چین او روسیې سره یې په امنیتي ډګر کې همکاري زیاته شي؛
- په نظامي برخه کې له روسیې او چین څخه مرستې ترلاسه کړي؛
- د "ترهګرۍ" پرضد د دغه سازمان له غړو هېوادونو څخه د مرستې ترلاسه کړي؛ ځکه د شانګهای سازمان د رامنځته کېدو بنسټیزه موخه هم د "ترهګرۍ" پر ضد مبارزه وه؛
- په افغانستان کې د حکومتي ادعاو له مخې تقریباً ۳ ملیونه خلک په نشه‌یي توکو روږدي دي او په دې برخه کې هم د شانګهای د همکارۍ سازمان له افغانستان سره مرسته کولای شي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت هیله‌من دی، چې افغانستان به په دغه سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړي. د افغانستان اوسنی وضعیت به هم په دې اړه مرستندوی رول ولوبوي؛ ځکه په شمال کې ناامنۍ دي، د هېواد په ځینو سیمو کې داعش ډله هم ورځ تر بلې پیاوړې کېږي او امریکایي او ناټو ځواکونه هم د وتلو په درشل کې دي. همدا راز هند او پاکستان ته هم په دغه سازمان کې غړیتوب ورکړل شوی، چې دا به هم د افغانستان د غړیتوب لپاره مرستندوی رول ولوبوي.

# صلح؛ از تلاش‌های حکومت تا وعده‌های مکرر پاکستان



پس از خراب شدن روابط میان افغانستان و پاکستان، مقامات پاکستانی یک بار دیگر برای همکاری گفتگوهای صلح میان حکومت افغانستان و طالبان سخن می‌گویند. نوازشریف نخست وزیر پاکستان از تلاش کشورش برای از سرگیری گفت‌وگوهای صلح خبر داد. پیش از این راحیل شریف رییس ستاد ارتش پاکستان گفته بود، اگر طالبان با حکومت افغانستان صلح نکنند به گروه داعش خواهند پیوست.

دو دور مذاکرات میان نمایندگان حکومت افغانستان و افرادی که از جانب پاکستان به عنوان نمایندگان طالبان معرفی شده بودند، در ارومچی و اسلام‌آباد صورت گرفت. در مذاکرات مری در نزدیک اسلام‌آباد، زمانیکه بحث بر سر آتش‌بس رسید، مذاکرات به دور بعدی موکول شد، ولی بعدا با افشای خبر مرگ ملا محمد عمر تا آیندۀ نامعلوم به تعویق افتاد و تاکنون دور بعدی مذاکرات صورت نگرفته است.

حکومت افغانستان از اظهارات نوازشریف استقبال کرده، اما این بار شرطی را برای آغاز این پروسه گذاشته و گفته است که پاکستان قبل از هر چیز، کمک‌اش را به گروه طالبان قطع کند.

## تجرید پاکستان و سفر نوازشریف به امریکا

سیاست اشرف غنی در قبال پاکستان با وجود کمی‌ها و کاستی‌ها، با دراز کردن دست دوستی به پاکستان این دست‌آورد را داشت تا به جامعۀ جهانی نشان دهد که افغانستان در روابطاش با پاکستان صادق است. به همین دلیل پاکستان پس از گفتگوهای نمایندگان طالبان و حکومت افغانستان در اسلام‌آباد و افشا شدن مرگ ملا محمد عمر

تحت فشار قرار گرفت و رئیس جمهور غنی چندین بار گفت که پاکستان با افغانستان در یک جنگ نااعلام شده درگیر است و نخست باید با پاکستان صلح شود. از همین جاست که رئیس ستاد ارتش پاکستان، نخست وزیر و مشاور امنیت ملی این کشور ناگزیر شدند از تلاش کشورش برای آغاز گفتگوهای صلح سخن بگویند.

قرار است نوازشریف در چند روز آینده سفری به امریکا و دیدار با رئیس جمهور اوباما داشته باشد. بخشی از آجندای سفر وی بحث روی قضیهٔ افغانستان است. به همین دلیل شماری از تحلیلگران به این نظر اند که اظهارت اخیر نخست وزیر پاکستان در آستانهٔ سفرش به امریکا، کمپاین تبلیغاتی بیش نیست. ولی با آن هم چنان می‌نماید که پاکستان ناگزیر شده تا برای تامین منافع خود، روابط خویش را دوباره با افغانستان بهتر کند و در کنار آن به جامعهٔ جهانی نشان دهد که کشورش در روابط با افغانستان صادق است. اما وعده‌های مکرر پاکستان برای همکاری صادقانه در قضیهٔ صلح افغانستان و عمل نکردن به آن، باعث شده تا جانب افغانستان با دید شک به سوی اقدامات پاکستان بنگرد و اکنون نیاز به یک ضمانت قوی وجود دارد.

## تلاش‌های صلح از راه شورای عالی صلح

در دوران ریاست جمهوری حامد کرزی، تلاش‌های حکومت برای جلب وجذب طالبان آغاز شد. حکومت در آغاز کار اصلا طالبان را به عنوان یک گروه قابل توجه و اعتنا به شمار نمی‌آورد زیرا گمان داشت که با حضور نیروهای خارجی، نیازی به صلح با این گروه وجود ندارد و رسیدن به صلح از راه جنگ ممکن است.

رسیدن به صلح از راه جنگ به این معنی است که باید طرف مقابل در جنگ شکست بخورد و در آن صورت نیازی به مذاکره نخواهد بود. بر بنیاد همین تصور و باور، حامدکرزی شورای عالی صلح را به میان آورد.

حزب اسلامی به رهبری گلبدین حکمتیار که در کنفرانس بن اول شرکت نداشت و در صف مخالفین حکومت کرزی به جنگ علیه حکومت ادامه داد، به تدریج به این نتیجه رسید که جنگ راه حل مشکل افغانستان نیست و اگر حزب بتواند با حکومت کابل به تفاهم برسد، به جای ادامهٔ جنگ، می‌تواند با این حکومت همکاری نماید.

حکمتیار هیئت‌هایی را به کابل فرستاد و طرحی هم به منظور حل مشکل افغانستان به حامد کرزی ارائه نمود، اما حکومت کرزی به این طرح که چندین بار توسط حکمتیار در آن بازبینی هم صورت گرفت، توجهی نکرد ولی این رفت و آمدها فقط به ادغام مجدد رؤسای هیئت‌های حزب به حکومت انجامید و تفاهمی با رهبری حزب صورت نگرفت. اما حزب دیگر آن قدرت سابق خود را به عنوان یک نیروی معارض با قوای خارجی و حکومت از دست داده بود.

این تجربه موجب شد تا حامدکرزی همین بازی را با طالبان نیز آغاز نماید. در ابتدا وی بر بنیاد قوم با رهبران طالبان در تماس شد. ملابرادر معاون ملا محمد عمر که هم‌تبار کرزی و از قوم پوپلزی است، مورد توجه بود. اما اینکه شرط اول طالبان خروج نیروهای خارجی از افغانستان و ایجاد یک نظام مبتنی بر شریعت اسلامی است، طالبان را نمی‌توان به ادغام مجدد راضی کرد. به همین دلیل تلاش‌های شورای عالی صلح بی‌ثمر مانده و پس از این نیز نتیجه نخواهد داد.

## سیاست فشار بر پاکستان

در حالیکه طالبان شرط اول برای مذاکرات صلح را خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان قرار داده بودند، حکومت وحدت ملی در فردای ادای سوگند، قرارداد امنیتی با امریکا را امضا کرد و به این ترتیب راه مذاکره با طالبان را مسدود ساخت. شرط حامدکرزی برای امضای این قرارداد تامین صلح در افغانستان بود اما رهبران حکومت وحدت ملی به این فکر بودند که ماندن نیروهای امریکایی در افغانستان و کمک درازمدت آنان در بخش نظامی متضمن صلح در افغانستان خواهد بود.

اشرف غنی قبل از رسیدن به ریاست جمهوری سخن از صلح می‌گفت اما بعد از رسیدن به این مقام در جواب کسانی که وی را بخاطر امضای قرارداد امنیتی بی‌توجه به صلح می‌دانستند گفته بود که چین و پاکستان به من وعده داده‌اند که طالبان را وادار به صلح می‌سازند. من هیچ نیازی به مذاکره با طالبان ندارم.

اشرف غنی با چنین اعتمادی، امتیازات زیادی به پاکستان داد و تعهداتی را پذیرفت. ولی این نکته را باید پذیرفت که در قضیۀ افغانستان تنها پاکستان دخیل نیست بلکه منافع کشورهای زیادی از جمله امریکا و انگلستان با ناامنی‌های افغانستان گره خورده است. روسیه بعد از سپری نمودن دورانی از مشکلات، خود را باز می‌یابد و جنگ سرد جدیدی میان روسیه و امریکا در حال شکل گرفتن است، جدال میان کشورهای نفت‌خیز عرب و ایران از سوریه و عراق به یمن کشیده شده و هند و پاکستان همچنان درگیر اختلافات خویش اند. بنابراین تنها پاکستان را حلال مشکلات افغانستان دانستن و از کشوری مانند چین چشم‌داشت فشار بر پاکستان داشتن بی‌نتیجه است.

ملا اختر محمد منصور رهبر جدید طالبان در نخستین سخنرانی خویش اشاره به این مسئله داشت که مذاکرات صلح فقط یک بازی بود و جنگ ادامه خواهد یافت. بعضی‌ها این سخن رهبر جدید طالبان را چنین تعبیر نمودند که دیگر مذاکراتی در کار نخواهد بود و طالبان دوباره به موضع قبل از سال 2009 بازگشته اند.

اما ملا اختر محمد منصور در این سخنرانی، به دفتر سیاسی طالبان نیز اشاره داشت. با توجه به اینکه دفتر سیاسی از نظر طالبان یگانه مرجع موظف برای مذاکرات است، از این اشاره می‌توان چنین فهمید که مذاکرات صلح یکسره از دستور کار رهبری جدید طالبان خارج نیست اما راه رسیدن به مذاکرات مستقیم با طالبان تنها از طریق فشار بر پاکستان نیست.

## آیا طالبان به داعش خواهند پیوست؟

در این اواخر در مورد میزان حضور و توان رزمی داعش در افغانستان تبصره‌هایی بگوش می‌رسد که مبالغه‌آمیز به نظر می‌آید. جنرال راحیل شریف ضمن ابراز نگرانی از وضع در افغانستان گفت که اگر مذاکرات صلح حکومت افغانستان با طالبان آغاز نگردد، احتمال دارد که طالبان با داعش بپیوندند.

جنرال جان کمپل نیز از گسترش دامنۀ فعالیت‌های داعش برای سربازگیری در نقاط مختلف افغانستان ابراز نگرانی نمود و سفیر بریتانیا در کابل نیز فعالیت‌های داعش در افغانستان را نگران کننده می‌خواند. این اظهارات در شرایطی بگوش می‌رسد که طالبان بخش بزرگی از شمال افغانستان را ناامن ساخته و مدت دو هفته نیز در شهر مهم کندز حضور داشتنند.

بزرگنمایی در مورد داعش توسط امریکا و انگلستان می‌تواند ناشی از این نگرانی باشد که اگر نیروهای خارجی از افغانستان خارج شوند، طالبان خواهند توانست بخش‌های بزرگی از افغانستان را تحت کنترول خود درآورند. غرب که در طول چهارده سال گذشته در افغانستان حضور داشت از مصارف هنگفت مالی تا خسارات جانی را متحمل شد، اکنون نمی‌تواند بگوید که طالبان هنوز هم قدرتمند اند. چنین اعتراف به معنی اعتراف به شکست است. مردم در غرب نیز به این مسئله می‌اندیشند که وقتی نیروهای ما در طول چهارده سال در شکست طالبان عاجز ماندند، اکنون باید به خانه باز گردند.

بنابراین به میدان آوردن یک گروه خود ساخته بنام داعش و بزرگنمایی برای آن می‌تواند ذهنیت جدیدی را در میان مردم در غرب ایجاد نماید. به این معنی که دشمن جدیدی به میدان آمده که دشمن خطرناک‌تر از طالبان و القاعده است و برای مقابله با آن باید نیروهای ما در افغانستان باقی بمانند.

## نیاز به تفاهم بین الافغانی

ناامنی های اخیر در کشور و سقوط کندز نشان داد که پس از چهارده سال جنگ علیه "تروریزم" به رهبری امریکا، طالبان نه تنها از میان نرفته اند بلکه با توان بیشتر در صحنه حاضر اند. این خود دلیل روشن شکست استراتژی رسیدن به صلح از راه جنگ است.

طرفین جنگ باید به این نکته توجه کنند که جنگ‌های منطقوی روز به روز پیچیده‌تر می‌شود که دامن زدن به منازعات قومی و مذهبی از مشخصه‌های آن است. اگر این جنگ در کشور ما دوام نماید، ما نخواهیم توانست خود را از این ورطۀ خطرناک بیرون کنیم و خواهی نخواهی به سوی کشیده خواهیم شد. جنگی که نتیجه‌اش شکست همه اقوام این سرزمین و پیروزی دشمنان شان خواهد بود.

یگانه راه برای حل مشکل افغانستان، تفاهم میان خود افغان‌هاست. تفاهم بین‌الافغانی و تلاش برای ایجاد یک گروه میانجی بی‌طرف می‌تواند مانع از دوام جنگ نیابتی میان کشورهای دیگر در افغانستان گردد. جنگ‌هایی که قربانی‌اش افغان‌ها اند و بهره‌اش را دیگران می‌برند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 747575741 (+93) drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.